پوهاندډوکتور م.ا.زيار

اکسفورډ، مى۲۰۰۸

# مافيايي- انجويي ټلواله

# خپل پايښت په ترهګرى کې ويني

# ښوونيز- فرهنګي يون

٤,٤ - ۲,٥. ۲۰۰۸

شپږنى٤,۳:

د لندن له هيترو هوايي ډګره د اتو پرځاى پر نهو د اماراتو جمبو جېټ پر هوا کړم. تږخي راباندې کره شپه پر ويښه تېره کړه او له خوب ګولى سره مې چې تر څو سترګې ورتلې، تر تورو اوبو ور اوښتى وم او د ملاوستني د ترلو بولى راکړ شوې وه.

اوونى ٤-٤:

ګهيځ مهال په ابوظبي نړيوال ډګر کې کښته شوم او د پلازمېنې ((دوبى)) تر دويم ترمينله په ټکسي کې ولاړم. هلته مې له اتو تر دولسو په سروړيره او درې ځله ځارنه او څېړنه وخت ګوډ کړ، خو صافي الوتکې يوه نيمه ګړى بله هم را سرباري کړه. له څلورو پېنځلس اوښتي وې چې په کابل هوايي ډګر کې ځنې کښېوتم. د سره انګرېزي پاسپورت په پاس له امنيتي او ګمرکي ازمونه په شيبه نيمه کې مخسورى راووتم.

شړکنده باران، که څه هم د زمولي پسرلي ول د بياتاندتيازيرى راکاوه، خو هغه شيبه يې دېته اړاېستم چې کراچې کښ ته د ټکسي هومره او ټکسي والا ته د اور ګاډي هومره پيسي ورکړم. هرګوره، څوک مې چې له بنز سره له يوې نيمې ګړى راهيسي هرکلي ته ولاړ وو، پوليسو د مور ميرې چلند له مخې له لومړنى بريد ليکي ر ا دېخوا نه راپرېښووه!

په زړو مېکرويانو کې مې له جهادي جنګونو نيم نيمژوانده راپاتې کورګي تر سباګهيځه دوه ورځنى ستوماني و ابسته او د را مخته کړې ښوونيزې موخې لپاره يې راکې غړنده متره بيرته راتانده کړه.

پيلنى ٥-٤:

له بېګاني تېلېفوني خبر سره سم مې له خپلي پښتو ځانګې راپيل کړه. شاګردانو او استادانو ته مې دوې ورځې سر پر سر د نويو ژبپوهنيزو برياوو او په ځانګړي ډول د پښتو ژبپوهنې

هغو، لکه له ویونکیو سره یې  تاریخي- جغرافیایي دریځ او بیایې د پښوېي(ګرامر) او لیکلاربنود د تازه کره کړ شوو چاپونو په تړاو لکچرونه ور کړل. هسې خو چې  ترننګرهار او خوست پورې له ورته لکچرونو راستنېدم، بیا مې هم وخت نا وخت ځانګې ته سر ور ښکاره کاوه او  له استادانو او اسیستانتانو سره مې ښکالوې او سلاوې پر مخ وړې او  پوښتنې اښتنې، ستونزې او رېړې مو سره په ګډه هوارولې. له ښه مرغه د صابر خویشکي او جمعه لورین تر څنګه تکړه استاد بایزید اخګ تر دوو لسیزو نا سوبتیا وروسته هم پښتو ژبپوهنې ته راستون شوی. دغه راز قسیم چمتو  پر پوهنمل اخګ سربېره د دودیزې ژبپوهنې له پاتوړې استازې پوهندویې زرغونې رښتین همکارۍ ته هم غاړه ورکړې ده!

د ځانګې دسروال استاد زغم کره تر غرمنۍ او په خیرخانه مېنه کې مې د ژبپوهنې استاد او د لوړو زده کړو اداري مرستیال خویشکي د مامازي تر لاسنیوې وروسته دا کابو ومونډله چې له یونیم دوست اشناسره وګورم او یا ورسره تیلېفوني وغږېږم... . له دې ناخبره چې کورته له ستنېدو سره راته له المان او اکسفورډه د مېرمنې، زوی او نمسی د اویایمې زېږ کالیزې د مرغه ښې زنګونه راځي او را پر زړه کوي یې!

یونۍ ٦-٤:

سهار وختي استاد صمیم له جلال اباده د خپل راتګ زنګ را وواهه چې د خوست او ننګرهار په چکرو کې د ملتیا ویاړ راوبښي. ټکسي د علامه حبیبي تر لیکي پلور(کتابفروشۍ) ورسولم چې په تېرو کلو کې ورسره د خپلو ور کړو بوجیو بوجیو کتابونو سپیناوی وکړم. له هغه ځایه پلی را وخوځېدم او د ملي خوندیځ(ارشیف)، ښوونې روزنې وزارت او ښاروالۍ پر برید مې د خاورو دوړو، غازونو او ګنو ګونو په بدرګه د اطلاعاتو او فرهنګ ترااداري مرستیال وزیر نبي فراهي ځان ورساوه. په دوترکې یې د وزیر سلا کار او فرهنګیال دوست نجیب منلي او ځوان لیکوال نذیر سهار لیدو کتو هم سترګې راروڼې کړې. ګران فراهي د غرمنۍ لپاره په زرغونه میدان کې د فراهي حاجي بابا ګرانبیه خوړنځای ته بوتلم. بیاورسره د ذبیح اله عصمتي د لاسنیوې په موخه تر عیدګاه هم بدرګه ولاړم. په پای کې یې هملته لنډ پر لنډه د شمشاد لرویڼون او ماین پاکۍ مشر حاجي صاحب فضل کریم فضل ته وسپارلم او  هغه هم پر خپل همکار فرهنګیال قاضي اختیار سباوون . کورته له رسېدو سره د ورځې په اوږدوکې هماغه لنډ پلي چکر په جوشاندو رغېدلی تېوخی بیا را وپاروه او انتي بیوتیکو ته یې اړاېستم.

په دې کې له المانه د پښتیان له خوا هم د کابل ښار د بېخرته چټلتیاوو په اړه د شپیګل تازه پر لیکه شوی بوږنوړی ګوزارش هم بې اغېزې نه وو چې یو داسې تېوخی یې((کابل تېوخی)) نومولی دی!

دونۍ ٧-٤:

سهار وختي په دې خام خیال چې د ځان مینځنې لپاره له بریښنا او اوبو څخه هممهال ګټه واخلم، تر ټولو له مخه پر تشناب ورننوتم. له دې مې څه باګه چې د اوبو له راتګ سره د بریښناد شپې نوکریوالي پایته رسي. ښه خو به داوه  چې هېواد مشر دغه دواړه بنسټیز ژوند توکي د دوو بېلابېلو وزیرانو تر منځ وېشلی وای او په دې توګه یې د یوه پرځای دوه سختدریځه ((مجاهده))  راخپل کړی وای!

غرزي نهنيمې پوهنځي ته ورسولم. په ننني لکچر کې مې شاګردانو او استادانو ته یو لړ ګرامري، لېکزیکي او معیاري سخرې غوټې ور وسپړلې او اړوندې پوښتنې ورغبرګې کړې. د پوهنتون تر ختیزې دروازې ځوانو استادانو ازمون او ښکلي بدرګه کړم او حنان جان له کړه وال کوچي او چپرهاري سالک سره د غرمنۍ لپاره بي بي سي دوتر ته څېرمه شینواري وریتې ته مېلمه کړم.

منځنۍ٨-٤:

ګهیځ پر شپږ نیمو راپسې له پروني جوړ جاړي سره سم د ملي لروینون ګاډۍ راغی او د وزیر اکبرخان مېنې له کړو وړو لارو او پاټکو یې تر موخې و رسولم. یوه کارمند بیاهم له څو ګوټپېرو وچورلولم را وچورلولم او د ګړۍ ستن لاپراوومه شمېره نه وه لګېدلې چې له اېمل یوسفزي سره په ستودیو کې سترګه پر سترګه شوم. تر نهو پورې یې ژوندۍ خپرونه راباندې ، له ژبپوهنې، ادب و فرهنګه نیولې تر ورځنیو پېښو، خبري او سیاسي شننو پورې په مرکو او ابښتنو پوښتنو تر پایه ورسوله.

ټولمشر فرهنګیال دوست واحد نظري مې هم په یوه خواږه چای هرکلی وکړ او له وېړې ټنډې یې راجوته شوه چې زما سپینې خبرې پرې بدې نه دي لګېدلې. ان تردې چې د بلې مرکې نیمې ژمنه یې هم راڅخه واخېسته او په همدې هیله یې تر پوهنتونه یو ګاډۍ په واک کې راکړ.

خوږ ژبي او نوښتګر شاعر او لیکوال غفور لېوال راپسې پوهنتون ته راغی او په ګاډي کې یې له ځان سره تر سروالی لاندې ((د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز)) ته بوتلم. په استاد صمیم پسې یې هم ګاډی واستاوه او غرمه مو سره تېره کړه. دغه منځی له آره د افغانستان د پوهنو اکاډېمۍ له ډېر کارو څېړنیزو څانګو څخه ده او د ډاکتر رشید وزیري او ستار پردلي بلوڅ غوندې خورا تکړه څانګوال پکې راټول شوي دي.

څلنۍ ٩-٤:

سهار له نویو او زړو کتابونو سره تر سیمه ییز مرکز او پوهنتونه ولاړم. د الماني کتابونو بوجۍ مې د اړوندې څانګې سروال پوهنوال بهبود ته ډالۍ کړه او دپښتو هغه مې د علامه حبیبي پلورنځي ته دخرڅلاو لپاره و لېږدوله.

د خپلو دوو چاپ کړو((پښتوپې او لیکلاربنود)) د راخپلولو په موخه تر کلوله

پښتې ور اخوا ټولمنلي خپرندوی اسددانش ساپي ته ورغلم.

پاتې ورځ مې د شعروادب و فرهنګ دوستانو لیدو ته ځانګړې کړه او لنډ پر لنډ مې څو تنه په بي بي سي زده کړیز مرکز کې لاندې کړل: عابد،کاروان، مستان، پاوند، پاڅون، مقصودي... . لومړنیو دوو په چل چل د ادبي بهیر او د خوست فرهنګي ټولنې د مهالنۍ لپاره له لروین سره په مرکوکې راونغښتم او وروستنې په خپل کوډ ګر او نندار یز غږ کې د استاد مجروح، ننګیال، لېوال،کاروان، سحر او اروا ښاد پلار ګرم شعرونه را واورول. عبدا له پیکار راسره دوه ځله په پوهنتون کې مخ شو، علم ګل سحر مې هم کوم چېرې پر وړاندې لکه ګل را وټوکېد

او بیرته را نه لکه اوراورکی په سترګرپ کې پنا شو. بابرزی مې د فرهنګیستان په غونډه او نور ډېر لیکوال او بیا ځوان شاعران مې له کابل ترننګرهار او خوسته په بیلابېلو ادبي- فرهنګي بنډارونو کې ولیدل چې د ګردو نومونه مې د زړه او ذهن پر سپینه دړه لیک پاتې شول. هرګوره،له پوخمنګو ویناوالو دوستانو مې یوازې د ټولمنلي صدیق پسرلي د لیدو ارمان تر پایه و نه رژېد!

پینځنۍ ۱۰-٤:

دغه ورځ تر نورو تېرو ورځو زیاته باراني وه او د ګڼ مېشتي کابل لنډو تنګو او کنډوکپرو سړکونو، لارو او کوڅو په مردارو او بوینو ختو چکړو کې غوپې وهلې. سپرو هم چار ناچار پر پلیو ور بادولې. خو یتیمان په ژړا پاخه دي او بېوزلي ښاریان ورسره له ۱۹۹۲ او په تېره بیا ۲۰۰۱ کال راهیسې هماغسې روږدي شوي، لکه له وچو ککړتیاوو، لوګیو او نورو ناخوالو او بخولو سره!

زه خو پخپله ترکابل پوهنتونه یوه سوالي ګاډي خوندي رسولی وم، خو شړکنده باران هملته ښکېل پاتې کړم. کتابتون ته یې په دې هیله ورغلم چې د نورو استادانو د بې شمېرو قلمي اثارو په لړکې دخپلو هغو یو څرک هومره ولګوم. داړوندې ((افغانستان پېژندنې)) څانګې مېرمنې لاس ته ورغلي نوملړونه لټ پر لټ کړه او همدا چې یې زما تر نامه لاندې څه پر سترګو ولګېدل، لومړی یې راباندې زېری وکړ او بیایې د زېرینۍ غوښتنه. خو چې ټاکلې ځای ځایګی یې پسې وکوت، په مات مخ یې رانه د نه موندنې ښننه وغوښته!

د باران تر غلي کېدو بیاهم وخت ګوډولوته چورت یووړم، نو راته وړنده وبرېښېده چې د پوهنتون مشر دوکتور دېپلوم انجنیر عبد ا لرحمان اشرف دوتر ته سر ورښکاره کړم او د ښوونیز یانه(سفر) په لړکې یې د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي سره له خپلې همکارۍ خبر کړم. په ترځ کې مې ورسره د افغا- نستان د ژبپوهنې اتلس ربړه رامخته کړه چې افغاني زېرمه یې څنګه د ((اسلامي وحدت)) له خوا د پو هنتون په لوټمارۍ کې پوپنا شوه او نړیواله هغه یې له دوو لسیزو را هیسې د سویسي چارواکو د برن پوهنتون د اړوندې څانګې له ناغېږۍ څخه تراوسه پایلیزونې او چاپونې ته سترګې پر لار پاتې ده. هغه هم زما د دواړو هاندو هڅو تود هرکلی وکړ او د وروستنۍ ربړې په اړه یې د پوره غور و هواري ژمنه وکړه.

یا ددغه المان روزلي اشرف محمدزي افغاني- فرهنګي مینه او ولوله او یا درې کاله وړاندې د امریکا روزلي (( اشرف احمد زي)) نا افغاني او نا فرهنګي چال چلند؟

د پوهنتون تر بر سره تر سیمه ییزو څېړنو پورې بیاهم د باران او ورسره د تړلو خړوبیو اوچکړوبیوله ټسه ټکسي ته اړوتلم. په خوبخونه کې رانه بلندې تودنۍ ساړه او ستوماني هېرکړل او د پاتې ورځې لپاره راکې نوې مترې غځونې وکړې. له را پاڅېدو سره په لاندېنې پوړ کې پر ماښامنۍ مېلمستیا واوښتم او داسې برېښېده چې ګران لېوال زما پر ویاړ رابللې وه ، خو ماته هغه هم پر کار غالي(ورکشاپ) بدله شوه. زرین انځور او مخان شینواري د ښوونې روزنې د ښوونیز نصاب د پازوالو په توګه د لیکدود و لیکلارې خبرې رامخته کړې او یون هم پکې ټیکۍ راواچولې او په پاداش کې یې د نورو غوندې زه هم یوولس بجې د ارګ په لندرور کې ترکوره ورسولم.

شپږنۍ ۱۱-٤:

پر دغه لمرینه چوټۍ(جمعې) ورځ مې متې ارامه سا واخېسته او یوولس نیمې بجې له کوربنې پېغلوټې((مینې)) سره تر مارکېټه چکر شوم. په را ستنېدو کې مې د روح الامین پرکور سترګې ولګېدې او وروختو، خو دامې کورټ هېر ول چې د غرمنۍ مهال دی. ملګرې رانه پښې سپکې کړې او زه یې په ډېرو ستونوخوړلوته اړکړم. په ترځ کې یې له سوېډنه چوټې راغلي زوی ډاکتر مجیب ا لرحمان ته هم هېښ پاتې شوم چې څنګه یې دا کال نیم خپله څانګیزه دنده او هوسا او بسیا ژوند د مورو پلار له خدمته ځار کړي دي؟

دوې بجې لېوال زنګ راوواهه چې د افغان ادبي بهیر اوونیزې غونډې ته ورشم چې ړومبۍ برخه یې زما ژبپوهنیزو خبرو او ابتنتو پوښتنو ته ځانګړې شوې. له لاربښوونې سره سم یې یو چا په ګاډي کې تر نادریې لېسې ورسولم او په اسانه مې ځای ځایګی او بهیروال پیداکړل. غونډه دومره و نه ځنډېده او له پیلېدا سره چلوونکي ماته د خبرو بلنه راکړه، خو نا ببره د بهیر سروال شپون تر ما مخکې شو او څو دقیقې یې راځخه په هسې ګپ شپ ولوټلې!

زه د ژبپوهنې د نویو بریاوو او څېړنو په رڼا کې د پښتو او پښتنو پر تېر مهال او وسمهال لنډ لنډ وغږېدم او بیا مې له تربرې ژبې((پارسۍ)) سره د پښتو رغنده ملي سیالي د ټولو ننګونو د شنډولو یوه غوره او سوله ییزه لار وبلله. تر هرڅه له مخه یې د نوې ژبپوهنې له ټولمنلو آرونو سره سم د یوې-کره لیکنۍ بنې بهیر ته ټول اوږه ورکړو او له وییپانګیزې پراختیا سره یې د بېلابېلو علمي، فرهنګي او تخنیکي ترمینالوجیو د راخپلولو لپاره هلې ځلې وکړو او هممهال یې د نوې ادبپوهنې او ادبي پنځونو له لارې په بډاینه کې کارنده برخه واخلو.

د یوې ګړۍ په وروستیو شېبو کې مې د ګڼو مینه والو ابتنتي پوښتني ور ځواب کړې او ورپسې د ځوانو او نوښتګرو شاعرانو د بدلبولې وار را ورسېد چې تر پېنځنیمو یې و غځوله.

ورپسې مو په هماغه ودانۍ کې بلې ناستې ته هم سر ورښکاره کړ چې وار له مخه د ډاکتر خوشال روهي په مشرۍ روانه وه. د وېینې سکالو یې پر هېوادنې کچ د سرشمېرنې پر ربړه راڅرخېده چې د تور- سپین نیواک، زبېښاک او مافیا زبېښلي افغان ولس له بې شمېرو سیاسي او ټولنیزو ناخوالو او بخولو څخه ګنډ کېږي. ناسته ماښام تیاره پای ته ورسېده او له شپون او افضل شېرزاد سره د کور پر لور را وخوځېدم.

پیلنۍ۱۲-٤:

دا اوونۍ مې هم له کابل پوهنتونه راپیل کړه. د الماني څانګې له سروال پوهنوال دستګیر بهبود سره مې تر خبرو اترو وروسته د پښتو څانګې خبر واخېست او له پوهنوال زغم، پوهنیار جاج، پوهنیار سیار، پوهنمل وزیري ... سره د ورځنیو ښوونیزو چارو په تړاو وغږېدم او له پوهندوی کېدونکي لورین سره مې د کابل هوایي ډګر نومونې را پښتو کړې.

غرمنۍ ته ګران لېوال و بللم او بیایي چلوونکي تر علامه حبیبي لیکي پلور او مخابراتو ورسولم. هلته ښله(لیفټ) دیارلسم پوړ ته ورهسک کړم او په کمپیوټر سیانس څانګه کې مې له مشر او کشر انصاري سره دربېکلن زاړه یادونه را ژوندي کړل. په ترځ کې ګران عمر

انصاري د پښتو نومونپوهنې (ترمينالوجۍ) دلومړۍ پرانېستې پر ځنډونه او هم پکې د ده يا هغه سلاکار وزير پر ونډه ځان کورټ ناګاره کړاو (د دويمې هغې)اَره يې کال مخکې د کابل سرېنا هوټل بخوله وګټله چې د مايکرو سافټ راغلی پلاوی ترې په توره تېښته بيرته امريکاته ستون شوی وو. هو،که خبره په رښتيا همداسې وه، نو دوه کاله له مخه خپله کړې نيوکه بيرته اخلم او ښښنه غواړم!

صديق انصاري راسره تر ملي لروينونه سپور او بياتر زړو ميکرويانو پلی بدرګه شو. په زړه پورې يې داچې د دغې بدرګې په ډاډ ۱۲-۱۳ کاله وروسته د امريکا سفارت پر مخامخ پلې لاره راتېر شوم،که نه، ځانته يې د زمري زړه راکړی وای، د اکبرخان مېنې هماغه اوږده او کږه وږه لاره مې پسې اخېسته!

يونۍ ۱۳-٤:

پر دغه ورځ د کابل پوهنتون دطب بريليکونو او ستاينليکونو د وېش څو دقيقه يي بنډار ته د هېواد مشر ورتګ د دې لامل شوی وو چې ګرده ورځ دوه غبرګ پوهنتونونه له زرګونو درسي ساعتونو سره د زرګونو شاګردانو او استادانو، کارمندانو او نورو اړوندانو پر مخ وتړل شي. ورسره ورسره کښته پورته نورې دولتي څانګې ښرانګې، روغتونونه اوګڼې ټوليزاوسېدونکي لاڅه کړې څه کړې!

له ټولو سره داپوښتنه وه چې ښاغلي کرزي ولې هغه دوه درې غوره يا وار له مخه د کوم ټلوال تنظيم غوره کړشوي فارغان له اړوندو استا دانو سره خپل دربارته نه ور غوښتل او که د دويم-درېيم ځل لپاره يې خپله نوماندي يو وار بيا انګروزه کوله، دايې هم د خپلو سرکاري رسنيو له لارې کولای شوه؟

په هغه بنده بنديا کې اړوتلم، د پوهنتون پر ځای د سيد جمال الدين، يا پخواني کابل دارا لمعلين لار ه را خپله کړم. څنګه چې ورننوتم او تر نويو او بيا رغېدلو برخو څو ګامه ورتېر شوم، نالاسوهلو راپاتې زړو يو پوړه خوبخونو، لوستخونو او بياورزشي ميدانونو او چمنونو يې د شپږ. کلن ژوند او زده کړې نيم پېړيز زاړه يادونه پر زړه راو وورول او بېواکه مې له سترګو څو ترمې اوښکې مخ کښته پر ونښکيو را ورغښتې!

په پای کې يو نوې دوه پوړه ودانۍ ته ورسېدم او له ژمنې سره سم مې د ښوونې روزنې د لوستليکيو(درسي کتابونو) پښتو څانګې ته سر ورښکاره کړ. دغلته د پخوانيو هېواد مېشتو کارپوهانو په سر سر کې له لويديځه تازه راغلي او رابللي هغه ګومارل شوي، لکه: انځور، شپون، ډاکتر مخان،طلا

بازحبيبزي... . د نوې پښتو ليکلارې او ليکدود په اړه مې ورته لږوډېرې څر ګندونې او لار ښوونې وکړې، خو د لا زياتو ستونزو د هوارونې لپاره يې د يوې پرله غښتې ناستې بلنه راکړه. له بهره د راغلو څانګوالو په لړکې مې له پوهندوی رحمت اله ځواکمن،پوهنوال رسول باوري، ډاکتر احسان اذري او د پاميري ژبو ډاکتر خوشنظر پاميرزاد سره هم کلونه وروسته د منډې له مخې ليده کاته وشو.

عزیز تحریک راسره تر لویې دروازې ملتیا وکړه او دحنان حبیبزي تر را رسېدو یې راسره د خپل اند و ژوند خوږې ترخې را واورولې. له حبیبزي سره په ګاډي کې تر سیمه ییزو څېړنو ولاړم. هلته مې له ښاغلي هېوادمل سره یوه لنډه کتنه وشوه، هسې یې خو زما پوره لټه کړې وه او تر کوره هم راغلی وو، بې له دې چې د هرکلي په ویاړ مې را و پاسلي.

له هغه ځایه بیاهم حنان جان د هدایت اله په ملتیا اتیاکلن شاعر دوست حافظ صاحب کره ور وستم. څو شېبې مو سره نیم پېړییز تېرهېر یادونه را تاند کړل او د غړېدا د ستونزې او اړوندې ناروغۍ د درملنې لارې چارې مو ور په ګوته کړې چې هیله ده، ژر تر ژره یې هغه پخوانۍ ویاندي بیرته راستنه شي!

دونۍ ۱٤-٤:

د ننګرهار همېش بهار په تکل سهارپاوکم پینځه کرولا ګاډي ته وختم. تر حسینخېلویې تر یو ټوټه نوي غځېدلي ډمبر سړک وروسته نور دلته بند پرهماغه زړه افسانه یې لاره ورسیخ کړم چې ډېر ځله ما او نورو بې شمېرو هېوادوالو او بهرنیانو د خپل مرګ و ژوند بر خلیک ورسپارلی وو او د خدای ښځلي ملنګ جان غونډې یې ډېر نازولي لارویان تر بلې نړۍ رسولي وو.

تر سروبي یې له هماغو پخوانیو نا لاسوهلو کنډوکپرو مارپېچو ګرځنو، کړلېچونو، لوړو او ځوړو څخه له پورې کړو هېندارو سره په دوو ګړیو کې تر سروبي ورسولم. پر ښوی ښاک ډمبر سړک لکه شتۍ خوشې شو او په څوشېبو کې یې له ورېښمین تنګي ور تېر کړم.

له کاکڅ او سرو(سرخکانو) نه له ورتېرېدوسره راته بولۍ راورسېده چې په عزیزخان کڅ کې د استاد الفت له ارامځای سره ترې کښته شم او هرکلي ته سترګې پر لار پاتې شم. ماچې ترڅو د درېڅ بولۍ ته خوله جوړوله، بیا یې له تراګړه تېر کړی وم او مټې یې له تېلو ټانک سره پلی کړم. نرنګوال کارکو- ونکي هم له ډډ غږه و پېژندلم او د کاروان تر رارسېدو یې په چایو او نقلو زما مېلمه پالنه وکړه.

شېبه دوه وروسته د استاد محمد آصف صمیم په مشرۍ د استادانو، لیکوالو او لروینوالو (کمره مېنانو) له تاوده هرکلي سره مخ شوم او نیمه ګړۍ تېره نه وه چې د پاکې سپېڅلې مینې او لورېینې په بدرګه کې یې د جلال اباد پر تلسمسورګلورین ښاروسپارلم. د ملي رادیو- تلویزیون سروال پوهنیار انجینر زلمي په خپلو پېرزوینو کې راښکېل کړم او په مرکو اوخبرو اترو او بیا شودوچایو او کېکوکولچو یې رانه د لارې ستوماني هېره کړه.

له استاد صمیم، استاد ازمون، ډاکټر جاراحمد په ملګرتیا لومړی د هډې فارم پر برید د ټولمنلي ستانه او رښتیني مجاهد اخونزاده صاحب ارامځای، مزدک و مدرسې ته ولاړم او له بیرته راستنېدو سره د تازه کبانو د غرمنۍ لپاره د بهسود پله رادې غاړه ښکلو او پخو ودان شویو خوړنځیو ته ور کښېوتو.

مازیګر د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ په تالارکې د ادبي بهیر راویاړلې غونډې ته ولاړم او پر پښتو ژبه او ادب تر اوږدو خبرو وروسته مې د یو شمېر مینه والو ابتنې پوښتنې ور

ځواب کړي. د رڼا مهالنۍ لپاره مې د سيد سميع اله سعيدي(زما د نهم ټولګي د تاريخ و جغرافيا استاد اروابناد سيد مقصود سعيدي زوی) د پوښتنو اوږده ليکلړ غبرګون ته مټې د خپل کلي په چکر کې وخت ومونډ.

وروسته د فرهنګي دوستانو په هڅونه بې له وخت ټاکنې د ښاغلي والي حسن شېرزي د ليدو په موخه شاهي بڼ ته ولاړو. په شنه چمن کې ورسره کښېناستو. ښوی ښاک سپين کالي پر تن او سره چکن کندهاری خولۍ پر سر. ساده ګپ شپ يې راسره و لګاوه او په ترڅ کې يې راته د ننګرهار د بيا رغاونې د بهير چټکونې لپاره هغه ليک راوښووه چې کوم بهرني مرستندويه سازمان ورسره د څه له پاسه دوه مليارډو ژمنه کړې ده. نري نري باران نوره کابو را نه کړه او رسخت مو ترې راواخېست.

ماښام بياهم د هغې پرتميني ناستې مشر مېلمه شوم چې هڅاند انجينر زلمي په نوښت او لګښت په همېشه بهار مېلمستون کې جوړه شوې وه. ماهم پر خپل وار د ادب و فرهنګ او هرې پوهې او تخنيک د ارابې په توګه د ژبې او بيا ژبپوهنې او ژبپالنې پر ارزښت رڼا واچوله او په ترڅ کې مې دوه لنډ انځوريز شعرونه واورول.

منځنۍ ۱۵-٤:

ډاکټر وراره سهار اتنيمې د غازي امان اله ارامځای له ګاونډ پېنځپوړيز استوګنځيه مخ پر ننګرهار پوهنتون وخوځولم او لنډ پر لنډه مو استاد صميم هم له کوره راواخېست. په شړکنده باران کې پوهنتون ته ورننوتو او په پوښتنه پوښتنه مو د ژبو او ادبياتو پوهنځي سروال((معروف شينواری)) ومونډ.

هغه هم په يوه بولۍ تالار له مينه والو را ډک کړ او د شاولي بړو وال او حضرت ولي ناګار په ګډون اړوندو استادانو هم راسره برخه واخېسته.

ماهم ورته د پښتو او پښتنو له درېزرکلن تېرمهاله راپيل کړه او تر نوې پښويې او ليکلاربښوده مې را ورسوله. د اښتنو پوښتنو په ترڅ کې دا وړانديز هم وشو چې دغه او نور لوستليکي(درسي کتابونه) مې په لوست اډانه کې ورځای کړشي. پوهنوال شينواري هم ډاډ ورکړ او داسې يې ور وښووله چې پخپله له همدغو کتابونو څخه لوست توکي ور برابروي.

دغو ټولو خبرو اترو درې ګړۍ ونيوې او څه کم دولس بجې له خپلو ملګرو سره له هغه پوهنتونه د ښوونې روزنې انستيتوت ته راغلم. دغلته بياسروال ابراهيم همکار او نورو همکارانو له ګڼو پوهنپالو سره د رڼا تر وينا خونې بدرګه کړو او د کوربه او مېلمه استاد((صميم)) تر لنډو پېژندګلويزو خبرو وروسته ماته د وينابلنه راکړ شوه.

د پښتوژبپوهنې، پښويې او يوې- کره ليکلارې په اړه مې ګړۍ نيمه د خپلو

تازه څېړنو يو نچوړ وړاندې کړ. که څه هم د ګڼو ليکليو پوښتنو ځوابونو هم ښايسته ډېر وخت را و بلوسه، خو بيايې هم يو زړه غټاوی را وباښه او دايې راجوته کړه چې شاګردان له خپلې مورنۍ ژبې او اړوندې پوهنې سره څومره مينه او لېوالتيا لري!

د خبرتیاوو او فرهنګ  فرهنګیال دوست اورنګ سلیم خوندورې او مینه ناکې غرمنۍ او خوړو خبرو مرکو راڅخه  پینځه ساعته ستړیا هېره کړه. د سرو ګلو او ګلولو ښارمې په پرله پیېلو باراني شپېو کې هماغسې ډوب پرېښووه او د خپل لمرین کلي په تکل مې ترې پښې سپکې کړې. جاراحمد هم زما له تندې او تلوسې سره سم خپلې کرولا ته پونده ورکړه او یوه نیمه ګړۍ لا سمه تېره نه وه چې یې د  ښکلې او پسرلي پسوللې مزینې تر بر سر او بیا د حصارک په زاړه کلي کې خپلې ختینې کلا ګۍ ته ورسولم.

د کورکهول د لویو وړو تر لیدو او چای دمې وروسته له نویو وربښتو سره یوه اوونۍ مخکې راوتلي رود ننداري ته ورکښته شو او هغه داچې تر سره انار ګله د سپین غر له سپینو سترګو یو څاڅکی اوښکه هم په اسانه نه را بهېږي!

دویمه ورځ(څلنۍ ۱۶-٤) مې له مړیستونه راپیل کړه. د مور له ارامځایه د یوازېنۍ او تر ټولو مشرې((ښاپیرۍ)) خور تر هغه پورې، چې داته څلوېښتو ورځو له څنډ سره یې د وروستۍ مخه ښې ارمان د تل لپاره پر زړه راپاتې شو!

وریسې د روغ رنځور د پوښتنې ګرویږنې په پلمه د وړکینې او زلمینې خوړو

ترخو یادونو په بدرګه پر کلیو باندو، ښیرازو کروندو او ګلورینو دېرو باغچو وګرځېدم راوګرځېدم. له چاسره مې سوړسک سابه وخوړل او له چا سره مستې شړومبې، شوده ورګه او له چاسره شنه او سپین چایونه.

پینځنۍ ۱۷-٤:

د۳۷-۳۸ ګړیو تر تېرولو وروسته، خوښ نا خوښ له پاکې او پرېوللې پسرلنۍ هوا او ساده سپېڅلي کلیوالي چاپېریال پرېښوولو ته اړوتم اوګهیځ وختي ترې بیرته د جلال اباد پر لورې راوخوځېدم. دغلته بیاهم پر لیکوالو او رسنوالو واوښتم، له استاد صمیمه نیولې، تر استاد ازمون پورې. په ترځ کې راته ځوان طنزیه شاعر او لیکوال عزت اله ځواب خپله((مینه)) راډالۍ کړه او بیا سره ټول په ګډه د تلویزیون د سروال پوهنیار زلمي پر دوتر ورننوتو. له ادبي ګپ و شپه  خبره رسمي مرکې ته ووته. وروستۍ چای غړپ مې لا تر ستوني تېر نه وو چې یوه تکړه مرکچي له دوتره لاسنیولی مخ پر ستوډیو روان کړم. هغه هم راباندې له ژبپوهنې تر ادبپوهنې د ابښتنو پوښتنو یو اوږد لیکلړ بشپړ کړ او متې یوولس بجې ترې راووتم.

له ګران ازمون سره د جاراحمد په ګاډي کې یوځل بیا ننګرهار پوهنتون ته ولاړم، خو داځل مې د لکچر پرځای د پوهاند زېور کره سر ور ښکاره کړ چې د ناروغۍ پوښتنه یې وکړم. زرغونه جانې د غرمنۍ تیاری نیوه، خو موږ ورته  د ګران سید احمد د مېلمستیا له کبله تم نه شو او پرځای مو ترې پر تناره پخکړی تود سوړسک را تر ګوتو کړ.

د بېسود پله څېرمه ملت رستوران کې مو په کبانو ځانونه ښه ټند کړل او د سهنې په پلمه  یې شېرزې لوبغالي ته پر چکر ور ننوتو. دغه ښکلی سکښتلی او تر سرپټې لمباځې پورې، په شنو چمنونو، ښایسته ونو بوټو او رنګارنګو ګلونو پسوللی لو بغالی چې له پله لږ راپورته له شاهي بڼ سره دېوال شریک مخ پر ښار راغځېدلی او د پخواني خورماباغ  ښایسته ډېره برخه

يې رانغښتلې، په ننګرهار او بيا جلال اباد کې د ښاغلي والي حسن شېرزي له نوښتګرانه کارنامو څخه ګڼل کېږي.

سره له دې، د لوی څارنوال له نيوکو دی هم بچ پاتې نه دی او وايي چې له ورکړو پيسو څخه يې په سل کې تر پينځو زياتې نه دي لګولې. که دا نيوکه يې پرځای وي، نو دا پايله ترې راوځي چې نور واليان همدومره سلنه هم پر خپلو خپلو ولايتو نه لوروي!

له درو تر څلورنيمو په ښاروالي تالار کې د عبداله صادق او ساير شينواري د شعري ټولګو د مخکتنې غونډې ته کښېناستو. هلته مې د نورو ادبي- فرهنګي څېرو په لړ کې راته د اغلې صفيې صديقي اصف ليدنه هم ستر غنيمت شو چې د ولسي جرګې د استازې په توګه د منډې له مخې ننګرهار ته راغلې وه او په کابل کې يې د کتو وياړ نه وو را په برخه شوی.

له نورو يارانو دوستانو سره دکړو ژمنو له کبله د غونډې تر پايه پاتې نه شوم. له ګران ازمون سره ترې غلی راووتم. تر تالاشۍ چوکه مو په يو زړه چاودون له بېخرته ګڼو ګونډو ځانونه و کښل او هله بيا په رېکشا کې د انګورباغ پر لورې و خوځېدو.

شپږنۍ ۱۸-٤:

استاد صميم د يوه فرهنګيال د واده په پلمه لسيزې وروسته، هغه هم پر نوي ډمبر سړک، کامې ته بوتلم او دهمدوی له تاندو تنکيو چنارونو او نورو ونو بوټو سره له بيارغولې دېرې بيا تر ګوجه پورې را شنو شوو کروندو او سمسورو ګلباغچو تللي يادونه بيرته راسوب کړل. په ګوج کې د واده خوندورې ډوډۍ وروسته زاړه يار ملک ناصر عبدا لرحيمزي له خپل ډاکتر زوی سره پرخپلې نوې ښويې ښاکې کلا ور برابر کړو او د شودوچايو د څښنې په څو لنډو شېبو کې مو سره د تېرو ګلورينو وختونو کيسې راغبرګې کړې. په تېره هغه ژمنۍ شپې ورځې چې د اروابناد ګډ دوست شېراغا په ورځېرمه دېره اوجره کې مو سره ناستې پاستې درلودې او بيا به تر نيمو شپو ټول مېلمانه او کوربانه زما او اروابناد برکت اله کمين دوه کسيزو شعر جنګيو ته غوږ غوږ پاتې کېدل!

بېسودو ته له بيرته راغبرګېدو سره له ځوان زده کړيال شريف ناصر له مختاکنې سره سم د چای دمې لپاره پر کاږه واږه څېرمه سړک سپاره او بيا يوه ټوټه پلي تر بينګا کلي ولاړو. ډاکتر پلاريې په خوږو خوږو مرکو کې د

شکردرې د سره جنرال د ملي- پوځي ښادنامو او په دې لړ کې په سقاوي ضد جګړه((نجات)) کې د ونډې کيسه وکړه چې زما او ملګرو لپاره نوې او په زړه پورې وه.

مازيګر مهال دا کابو لاسته راغله چې د ښوونځي او پوهنځي د وختو((زړه سواند)) کيسه بول او غزلبول کره ورشم. داچې سم له لاسه له ورپېښې زړه ناروغی را رغېدلی برېښېده، زه ورسره هم دمه شوم. د نوښتګرانه او زړه راکښونکو غزلو او ازادو ټوټو په را اورولو يې ډېر ګډ شاعرانه يادونه بيرته راژوندي کړل. که ډاکتر يې پر خبروبنديز نه وای لګولی، ورسره نور هم کښېناستم او په خوږو خوږو ترانو يې لاپسې پاسللم. هسې خويې يوه ټولګه په خپل لاس راډالۍ کړه او بله يې ما د خپل کتاب نيم په ونج کې له مومند پلورنځي څخه لاسته راوړه.

پیلنی ۱۹-٤: د هندوکش ودانیز شرکت له مشر انجنیر خلیل غفور سره د سرو کوکو او تودو چایو تر څښلو او د سیند غاړې تر یوه لنډ چکر وروسته

له جاراحمد سره هډې فارم ته یو ځل بیا وختم، خو زما له خوا له یوه ختین دېوال سره د ګاډي وربوز لګېدنې له چکره لاس پر سر کړو، د هغه د جوړولو لپاره میخانیک خوره يي ((اجمل))ته ورغلو او دخپلو نسونو د مړولو لپاره هوټلي هغه((بلال)) ته. د غرمنۍ مېلمه پال د ډاکتر وراره د پزې د پټۍ او زما

د لاس د هډ بندۍ چاره هم وکړه.

نور مې د ننګرهار یون هم پای ته رسېدلی وو او جار او اجمل تر ښاره وتلي کابل اډې ته ارام و هوسا ورسولم. بیاهم تر سروبي وروسته مې د نورو ډېرو غوندې د لته بند پرهماغه شاړه شډله لاره سر شو. نیمه ګړۍ د کړوخېلو د رنو چینو په نلکو سړرلیو او ګاډو خاوري دوړې پرېوللې او پېنځنیمي بجې مو متې د سپرلۍ ګاډي اربې پر ډمبر سړک ولګېدې. دا میاشت دوی وشوې چې جهادي- ابمپریالیستي ټلواله د تنګي غارو د بیا تازه رغېدلي سړک د یوه نړېدلي پله د بیارغاونې له توغه وتلای نه شي، حال داچې د درست هېواد د بیارغاونې ډنډورو يې ټوله نړۍ پر سر اخېستې. د لته بند یوې پېړییزې زړې لارې ته بیرته ورستنېدنه دا رازبادوي چې د همدوی په لاس وران ویجاړ هېواد او ټولنه پرمخ نه، بلکې پرشا وړي، ځکه په همدې کې يې د نیواک پایښت نغښتی دی!

چې کله کوم هېواد پال و کیل یا رسنوال(ژورنالېست) هرکورني او یاهم بهرني ټلوال ته اړوندې ناخوالې او ناغېړۍ ور په ګو ته کاندې،همدایوډول پلمې رامخته کوي چې د درو لسیزو ورانۍ ویجاړۍ بیا رغول همدومره لسیزې غواړي. خو یو يې هم بیرته نه ورغبرګوي چې ولې درې لسیزې، د دوکتور نجیب اله د واکمنۍ تر وروستۍ شېبې خو هرڅه سم ول؟

یونۍ ۲۰-٤:

د غویي اتمې د ډرنامې له ټسه مو پر مخ لارې کوځې تړلې وې او کوربه چلوونکي په ډېره خوارۍ د سېمېنټ خانې له ګورنډو پر مرنجان غاښي نورمحمد شاه مېنې ته و اړولو، ماشوم يې په سیاه سنګ کې د اتو بجو پرځای نه نیمې پر ښوونځي وسپاره او زه يې هم د لاهورۍ دروازې او زاړه ښار د کنډوالو له لارې تر ګذرګاه او بیا په میرویس مېنه(ده بورۍ) کې د سیمه ییزو څېړنو مرکز ته ورسولم. له هغه ځایه تر پوهنتونه پلی ولاړم راغلم او تر یو لړ اړینو بوختیاوو وروسته مازیګر مهال د مرکز ګاډي پر کور و سپارلم. تر نیمې شپې مې له پرله پسې ټېلېفوني زنګونو سره سره راته د زدکړیز نصاب پازوال ((انځور صاحب)) د استاد صمیم په اړه غوڅه پرېکړه را ډاګیزه نه کړه چې سبایې راسره خوست ته پرېږدي او که نه؟

دونۍ ۲۱-٤:

استاد صمیم هم چې کرۍ شپه يې د حمزه بابا((... ته سبا سبا کوه زه به بېګا کړم)) شعر زمزمه کړی وو، سهار مانځه مهال زنګ را وواهه: ((دادی درغلم!)).

بیا نو کومه خرخشه را پاتې نه شوه او غرزي هم په يوه منډه د ولايتو تر اډې

و رسولو. له بده مرغه په يوازېني راپاتي نيم ګړندي ګاډي کې شاځوکی را په برخه شوې چې تر ګرديز اخوایي، له ستو کنډوه تر نادرشاه کوټه په پورته پورته ويشتلو سره پر رڼا ورځ د اسمان ستوري را و ښوول.

د اسمبلخېلو دوه لاري راته انجنيري زده کړيال((مسعود)) وار له مخه نيولی وه چې تر هغې شپېې يې له استاد سره تش تېلیفوني اړيکې پاللي ول. تر مينه وړي غاړې روغبړ وروسته يې تر نوي پوهنتونه ورسولو او دنوي ټاکلي مشر پوهندوی دوکتور ګل حسن وليزي دوتر ته يې ورسيخ کړو.سره له دې چې زموږ ورتګ يو ناڅاپي وو او د ځانمرګو ترهګرو له وېرې مو وار له مخه خبر نه وو ورکړی، خو له ۱۲نيمو تر دوه نيمو يې چې ترڅو مو لاس و مخ پرېولل او چاي ډوډۍ مو سره کول، وخته بيا د پښتو ژبې او ادبياتو، ژورنالېزم ... رسخت کړي شاګردان بيرته راسوب کړي ول.

دغه ښکلی پوهنتون د شيخ زيد بن سلطان له خواد ۳۵ ميليونو په لګښت دغره پر ډډه ودان شوی او له همدې کبله يې په نامه نومول شوی دی. دغه نوميالی له هغو ګوتشمېرو عربي شيخانو څخه ګڼل کېږي چې له وروسته پاتې اسلامي هېوادو سره د بنسټپالی او ترهګرۍ پر ځای د پوهې، فرهنګ او ټولنيزې ښمر ښېګنې په برخه کې وړيا پانګونې کوي.

پر پښتو او د د غې شمال ختيزې(باختري) او ساکي آرياني ژبې پر تېر مهال، پښوييز رغښت او کره ليکلار زما لکچر او اښتنو پوښتنو تر شپږو بجو پورې دوه دوه نيمې ګړۍ ونيوې، خو را دباندې د څو نويو لکېدلو ونو بوټو شاوخوا بېشميرو ديجيټال لروينو ګړۍ نيمه نورهم پښه پرځای پاتې کړو.

د ماښامنۍ او شپې تېرونې لپاره مو هم ګڼ مينه وال له خپل ګاډو سره تيارسۍ ولاړ ول او هېچاته مو ((نه)) نه شو ويلای. په پای کې استاد صميم د انجنير مسعود په پچه ورسېد او زه د ګران خورين رووف نېکعمل په پچه چې خپل مامايي راته په وربوی کې له پينځو بجو راهيسي له ګاډي سره پر يوه پښه درولی وو. د لکنو پر بريد ورسره وخوځېدم او داچې ډمبر سړک يې ټيک ترکلي(( ترېزيو)) غځېدلی وو، نو تر نيمې ګړۍ زيات وخت يې را و نه لوټه. د مينه ناکي مېلمه پالنې په لړ کې يې تر هرڅه غوره دا وه چې په يوه تاوده تشناب يې راڅخه د ګردې ورځې ستومانۍ هېرې کړې او په درانه خوب ويده شوم.

منځنۍ ۲۲-٤:

کوربنوګهيځ وختي بريځر را تيارکړاو شپږ- شپږنيمې يې د ګډ فرهنګي دوست زاهدانګار صاحب تر فرهنګي ټولنې ورسولم. استاد هم له لمانځه مهاله هلته ځان رارسولی وو. انګار هم د شنو چايو پرځای سپينې راو لورولې او موږ هم په دې چم د مېلمه پالنې پور ور پرې کړ. له دوتره له راوتو سره يې راته د کابل په موخه راغوښتی سپرلۍ ګاډی سترګې پر لار وو او پکې راکښېناستو.

که د استاد صمیم بې کچه تلوار او ټینګار نه وای، ډېر مې زړه غوښتل، لږ تر لږه یوه ورځ شپه نور هم هلته پاتې شم او په شاوخوا سیمو اوکلو بانډوکې د ۱۳٤۲، ۱۳٤٥ او بیا ۱۳٥۹ل. کال د هغو کرښپلونو، او ورسره ورسره د زړو یارانو دوستانو د مړي ژوندي یو څرک هومره ولګوم چې د ګردودي څېړنو په لړ کې مې د زړه او ذهن پر دړه کښلې ول. د خوست پوهنتون د مخنې سروال استاد فیاض او زما داووم ټولګي ګران اومنلي پښتوښوونکي ((سلېمانزي)) او بیا تر ستو کنډوه له پرونی بېړ ندویې غونډې د ناسوبو زده کړیالو او مینه والو پرله پسې ټېلېفونه هم د همدې خبرې ښکارندوی ول!

داچې په بیرته راتګ کې د خوستي دوستانو بېکچه مینو او لورېینو له ستو کنډوه روغ و هوسا راواړولو، نو نوره مو ترکابله کومه ستړیا و نه نګېرله او له رسېدو سره مو ټکسي ونیوه. استاد صمیم مې تر خپل نوي کارځای (تعلیمي نصابه) ورساوه. زه پخپله هم لا تر سیمه ییزو څېړنو نه وم رسېدلی چې انځورصاحب رانه په ټېلېفون کې پرخپل ټاکلي وخت د استاد د ور سپارنې مننه وکړه او په همدې پلمه یې سباته د خپلو همکارانو لپاره د لکچر بولۍ راکړه.

څلنۍ ۲۳-٤:

کوربه پوره اته بجې له شمشاد لروینون سره پلی کړم او سیده د خبري څانګې پازوال سباوون ته ورغلم. دویمه چای پیاله مې لا په لاس کې وه چې فضل صاحب له خپل دوتره راکښېووت او بې پوښتنې ګرویږنې یې له ځان سره د اماني لېسې پر لوري و خوځولم. د محمود خان تر څلارۍ هاخوا یوه ښه شېبه

د ((بېدفاع وزیر)) تر راوتو دربېژ شو او په همدې ډول مو تر دوه درې سوه متره موخې پورې بېلابېلو مارپېچو پاټکونو شل دېرش پله(دقیقې) وخت ونیوه.

ډک هال په دې ډاډ من کړو چې سر چاروا ک به هم تر ټاکلي مهال((نه نیمو)) را

ورسي او غونډه به پیل شي. تر لسو مې د ملګري له زغم سره زما زغم هم پای ته ورسېداو بیرته ځنې ښوی راووتو. سره له دې چې سکالو((د <u>محرومیت</u> د پایته رسولو لپاره <u>باکیفیته</u> زده کړه)) وه او لږ تر لږه پر اورېدو ارزېده، خو د عملي ګټې له پلوه بیا زموږ د دواړو دندې ناځنډ منونکې وې!

هغه خپل دوتر ته ولاړ او زه پوهنتون ته. دپښتو ژبپوهنې او په ځانګړې توګه د پښوییزو ستونزو په اړه استادانو او بیاکشرانو ښځمنو هغو راڅخه په اښتنو پوښتنو د غرمنۍ وخت راولوټه او په منډو منډو مې د زده کړیز نصاب تر ودانۍ ځان وړ.ی تړ.ی ورساوه.

هلته مې د وخت سپماپه پام سره د استاد هیله من په پیاله چایو بسنه وکړه، خو د غونډې مینه والو په لمانځه اوداسه دومره وخت راولوټه چې د غرمنۍ لپاره تریوه خوړنځي ته ولاړشم راشم. ان تر دوو هم شېبه نیمه تېره وه چې ټاکلې خونه متې نیمه راډکه شوه. انځور صاحب کومې اداري ناستې ته غوښتل شوی وو او د مرستیال تنیوال له واک و وسه همدومره پوره وه. په دې کې هم یو شمېر ګړۍ وروسته کوروته ستانه شول او یو شل کسه را پاتې شول. په

کارخو داوه چې د شمېرپوهنې(ریاضی)، پېنځپوهنې(فیزیک)، ژوندپوهنې (بیالوجی) او نورو جوتپوهنو او ټولنپوهنو د پښتو برخې ګردو کارپوهانو راسره هم ګډون کړی وای!

له نا اوډیو سره سره مې هڅه وکړه، د نویو ژبپوهنیزو بریاوو په رڼا کې د پښتو ژبې پر تېر مهال خپلې خبرې را لنډې کړم او پر وسمهالو ښوونیز- پوهنیزو ربړو او ستونزو یې یوڅه زیات و غږېږم. په دې لړ کې مې ورته له نویو زیاتونو اوکرونو سره د دوو غبرګو کتابونو( پښویې او لیکلارې) پر بنسټ د ((یوې- پښتوکره پښتو)) او په ځانګړې توګه لیکنې او لیکدودې لار ښوونې وړاندې کړې. پوښتنو او ګرویږنو یې پردې پوره باوري کړم چې پر هغو ټولو یې پوره سرخلاص شوی، سهلې او منلي یې دي. هسې خو ډېریو ګډونوالو د پښتو ژبې او ادب په ښوونه او بیا یې د اړوندو لوستلیکیو په کښنه او تیارونه کې اوږدې مخینې، ازمېښتونه، نوښتونه او بریاوې تر شا پرېښې او دادی، له ښه مرغه نن سبا، پر نړیوال کچ په ښوونه روزنه او ژبپوهنه کې د نویو نویو رامنځته کېدونکو بریاوو ، مېتادوجیو او ترمینالوجیو سهنې او کارونې ته ور هڅول کېږي او ورسره د لوړو زده کړو څانګوال او کار پوهان هم له بهره را غوښتل کېږي.

شپږنۍ ۲۵-٤:

له کتې له راپاڅېدو سره په دې چورت کې شوم چې نن خو چوټي ده، چېرې ولاړ شم او څه وکړم. سهارنۍ مې لا تر ستونې تېره نه وه چې یو پوځیوال دوست((سید عزیز وردګ)) زنګ راوواهه او ترڅو چې مې د خوب کالي پر ورځنیو بدلول، بیاله سرکاري ګاډي سره رارسېدلی وو. نبغ یې د امینواکي پېر د ګډ زنداني دوست((تاووس)) پنډي یا اوسني نیازي ودانیز شرکت تر کورودوتره ورسولم. خو هغه ددې پرځای چې زموږ ملګرتیا وکړي او د کابل

په خوسا او بوینو کوڅو کې د چا ختم او دچاکوژدې او واده ته راسره ولاړ شي، موږ ته د بګرام او کوهستان د چکر بلنه راکړه.

ماهم د همدغه هوساییز چکر او رښتینې هواخورۍ وړاندیز غوره وګاڼه او هغه بل مې خپل غم و ښادۍ ته پرېښووه. تر هغه مهاله له دې ناخبره وم چې خیرخانه مېنه او بیا کابل ښار دې پر هغه نبغ اوسنغ غاښې ورختلی او تر کارېزمیره مخ پر شمال دومره غځېدلی اوسي. په دغه لړکې چمتله او پسې ورپورته شاوخوا دښتې او لمنې خو د ناسپېڅلې شمالي ټلوالې جهادي انډیوالانو ((پنجشېري فهیم)) او((پغماني سیاف)) بیا وخته چورکړي او په خپل منځ کې یې سره وېشلې دي!

تازه ورښتونو شمالي رښتیاهم پر((لاله زار)) بدل کړی: په دښتو او رغځیو کې یې سرو غاټولو سرونه راهسک کړي، سوي الوي انګور باغونه او کروندې بیا راښېرازه شوي، د پخوانې ډمبر سړک دواړو غاړو ته نویو غوړېدلو اکاسیو پر پلو او سپرو خپلې خوږبویۍ لونلې او زړونه او تمېزونه یې ور تخنول او مستول. د لارې په اوږدو کې مې نابېره پر هغو دنګو او پسورورو برېښنا ستنو سترګې ولګېدې چې پېږ پېږ سیمونه ورباندې له وزبکیستانه مخ پر کابل را غځېدلي او د انګروزوله مخې د ۱۵۰ مېګاواټو او په همدې انډول دیوه لوړ ولتاژ برېښنا د لېږد لپاره په پام کې نیول شوي دي. داچې له حیرتانو یې تر کابل ښاره راتګ ته د میلیونونو هېواد والو د تېرژمي کنګلې تلوسې کله ویلېږي، اړوند مجاهد وزیر ته هم پته

نشته. د رښاغر(جبل السراج ) دهغې يو پېړييزې ړومبنۍ برېښناځواک  پرياد چې پر خپل مهال يې  ترکابل ښاره خپله رڼايي اوتودوخه رارسوله او  همدې واکمنې تورې ارتجاع يې وروستۍ نښې نښانې يو مخيزه له منځه يوړې!

له لولارې تر برمته شوې بګرام پوځي ډګره هغه يو تونه سړک دومره کنډوکپړ او ګورنډې ګورنډې شوی چې د لته بند او ستو کنډو تېر هېر يې بيا راتاند کړل. نور نو تر عبداله برج او صياده د پسرلي پسوللو ختينو او خال خال ګټينو کلاوو کورونو، شنو کروندو او انګور تاکونو له زړه وړونکو ننندارو سره  ښوی ښاک او پاک ساک ورسېدو او د پنجشېر د نيم ځپاند سيند له نيمايي بستره را هسک شوي کانکرېټي رستوران کې راته وار له مخه  د تازه لقه کبانو د غرمنۍغوړېدلي کوبي(دسترخوانونه) له خپلو مېلمه پالواو وسله والو ساتونکيو سره سترګې پر لار ول.

ماته تر هرڅه دا سترګو ليدلي او اورېدلي نندارہ ډېره په زړه پورې او ورسره ورسره هېښنده وه چې څنګه يوه پانګوالي کاروبار سره پروني انقلابيان او جهاديان سره را پوخلا کړي او پر يوه ټغر کښېنولي دي: يو خوا ډاکتر نيازی وردګ له خپلو ما ما زامنو-کاکا زامنو او بلخواحاجي رضأ سنزی له خپلو ورونو سره.

 هغوی سره په مينه مينه د مخامخ غره د کروميتو پر را يستنه او بيا يې چين ته پر لېږدونه غږېدل، خو زه د ((ملت رغاوني)) ارمانژلو شننو ځپو پرمخ اخېستی وم او دامې کرل او رېبل چې که  ناپانګوالي انقلاب پکې پاتې راغی او د جهادي – ابمپيرياليپستي دولت، په بله وينا، مافيايي- انجويي ټلوالي د ازاد اقتصاد او بازار نارو  سورو بېلابېلي مافياوې راوزېږولې، ګونډې دغه کوشني کوشني ولسي نوښتونه د ټبرني او بيا په ټېره ورسره د ټرلي ملايي نظام ستنې ورو ورو راوړکوي چې  تر ډېر پېرې طالبي ترهګری يې  راورسوله!

پيلنی ٢٦-٤:

ګهيځ اتنيمې غرزي په انصاري ځلاری کې پلی کړم، نېغ د صافي هوايي شرکت ته ورغلم او د بېرته تګ ټېکټ مې له منځنی تر پېنځنی را اوړد کړ. د علامه حبيبي تر پلورنځي اود ښار تر منځۍ مې د نورو پليو ښاريانو غونډې خاورې دوړې او لوګي لګه زهر تر ستوني تېر کړل، خو تر پوهنتونه بياهم ټکسي ته اړوتم. په پښتو څانګه کې مې له استادانو سره په څانګيزو سکالوو ځان  ښه ستړی کړ او د پوهنتون پر نريو نريو پخو پلو لارو د سيمه ييزو څېړنو تر مرکزه ولاړم. تر يو څه ارام وروسته مې برېښليکونه وکتل او و لېږل. ګړی نيمه د ودانۍ په چمن کې  له فرهنګي دوستانو(غښتلي او فروتن) سره چايې و څښلي اوګپ شپ مو سره و لګاوه. لمر پرېواته  هر څوک  پر خپل لوري ولاړل او پخپله د ډاکتر خوشال روهي سره مېکرويانو ته ستون شوم.

اته بجې د غرزي او جار احمد په ملتيا تر کلوله پښتې ور هاخوا د پخوانيو پښتو څانګې لېسانسه دوستانو(( ګل اغا ناصري او مېرمن پښتنې حسيني)) کره ماښامنۍ مېلمستيا ته ولاړم. کشر زوی يې چې د هېند په پونه پوهنتون کې سوداګري زده کړې پر مخ بيايي او تر څنګه يې له نورو افغانانو سره يوه فرهنګي ټولنه جوړه کړې ده، خپل ښکلي شعرونه په خواږه غږکې

را واورول. مور و پلار پرې هم په دې وياړي چې په کړن کې يې د دواړو لاره پر مخ اخېستې ده.

يونى ٢٧-٤:

پر دغه ورځ  له بېګا راهيسې پر شاوخوا سيمه د((مجاهدينودبري جشن)) په نامه پر هېواد او بيا کابل د يوې اخوان- ستمي ډلې ټپلې د زور واکۍ د شپاړسم تلين له کبله ګرځبندی لګېدلی وو او څوک له کوره وتلای نه شو.

برېښنا هم نه وه چې لږ تر لږه يې د بهير په ليدو وخت ګوډ کړای شو. ناڅاپه له ټاکلي  خوا څخه  د ټک وټوک غږونه راغلل او په سترګرپ کې يې پر ټول تشيال او چاپېريال راغوړېدلې چوپه چوپتيا ړنګه بنګه کړه.

له يو دوو اجل نيولو پرته راپېښ شوی شر نور د ټولو ښاريانو پر ګټه پرېووت او د ګرځېدو راګرځېدو کابو ورته پيداشوه. زه هم  ښار ته ولاړم او له تېرې ژمنې سره سم د پخواني فرهنګي دوست، اذرخش حافظي، د ليدو په موخه د سوداګرۍ او صنعت اوتاکونو(خونو) ته ولاړم. متې هملته مې د اَريانا تلويزيون هغه ګوزارش وليد چې څنګه ليکه ولاړ خلک پر ځمکه رالوېږي او د هېواد مشر په ګډون لوړ پوړي ملکي او نظامي چارواکي، افسران، پوليسان، سرتېري، وکيلان... اخوا دېخوا تښتي او په منډو منډو کې يې د درغلي اتلانو عکسونه تر پښو لاندې لتاړېږي. مړي او ټپيان لا هملته پر ميدان پراته دي، خو ښاغلی کرزی بيا بيا د تلويزون پر مخ راښکاره کېږي او همدا وايي: (( خير خيريت است، با اطمينان باشيد!)). هغه بېګناه شهيدان او په تېره په ولسي جرګه کې د پکتيا استازی او  د ځمکني ټېر ټولمنلی مشر فضل الرحمان او بيا هغه رسوايي تش  ياد هم نه کړل. ځکه پوهېده چې تر شايې د خپلو ټلوالو لاسونه دي: (( له ډاره حال ويلای نه شم – د سوال ياري ده اوس به ګډه وډه شينه! )).

تر څو حافظي صاحب له دوتري کاره راوزګار شو او د يوې خوندورې غرمنۍ لپاره يې په يوه خوړنځي کې مېلمه کړم. که نه په دوتر کې بيا بيا راغبرګېد ونکې کوميک_ تراجيک تلويزوني ګوزارش او ورسره ورسره د بې توپيره

هېواد مشر ((د خيريت راپور)) ليدو اورېدو نورهم پسې پکو کولم.

له غرمنۍ نه له راستنېدو سره پر طاهر غزنوي او جاراحمد واوښتم او مخ پر پغمان يې ګاډي ته پونده ورکړه.  تر درو لسيزو وروسته د هغې  تاريخي هوساينځي ليدن ډېر زاړه تېر هېر يادونه پر زړه راوورول  چې له اوسني اکربکر سره يې ډېر لږ اړخ لګاوه. د بيا رغاونې په لړ کې يې، هرګوره د((سوبې ځلی)) تر پخواهم ښه ترارغول شوی خو اوږدوجنګو ځبلو مېله ځايونو، ګلبڼونو، چمنونو، پارکونو او واټونو يې له نويو هاندو هڅو سره سره بياهم  هغه تېر برم و پرتم نه دی را خپل کړی. هوټلونه، مېلمستونونه او نورې ودانۍ يې خو هماغسې کنډر کنډر پاتې دي او پر پخوانۍ اَره اماني سکې و سکښت بيا رغاونه يې خو بې له هغې هم له اوسني بې سروبوله دولته پوره نه ده.

د پغمان تر ځغلندې ليدنې کتنې وروسته مو د کرغې لار پسې راواخيسته.

دغه مېله ځای د کوم جهادي ميليونر له پانګونې سره، نه يوازې بيرته راسکينده شوی، بلکې د لازياتې ګټې وټې په پام سره تر پخوا ډېر غځېدلی

او ښکللی دی. د ډنډ پر غاړو مورګو يې ښکلي رستورانونه او ښکي جوړشوي او کرايي مېخانيکي او موټري بېړۍ پکې ځغلي راځغلي، خو تر بند راکښته ونې بوټې همغسې سوکړه پاتې دي او د ګولف ميدانونه يې هم بيا رغول شوي نه دي،ګوندې ټيکه وال په بيا رغاونه کې څه ګټه وټه نه ده ليدلې!

دونۍ ۲۸-٤:

داورځ مې د ګران اومنلي فراهي له دوتره راپيل کړه. د فرهنګيستان د مېلمنو نوملړ مو سره پايليز کړ او چلوونکي يې ۹نيمې پوليتخنيک وسته د ښوونې روزنې پوهنتون ته ورسولم. له مخنې جوړجاړي سره سره د اړوند پوهنځي مشر ښاغلي جمشيد رشيدي په ډېرو منډو رامنډو وکړای شول، متې لس بجې شاګردان له دوه درو استادانو سره په يوه او بيا بله لوستخونه کې راټول کاندي. تر دولسو مې ورته پر پښتو تاريخ، پښويه، يوه _کره ليکلار او د نومهالو علمي- تخنيکي نومونپوهنو د راپښتو کولو پر اړينتيا

خپلې څرګندونې وړاندې کړې او ابښتې پوښتنې مې ورځواب کړې.

له دوکتور طاهر عنايت سره مې ايله د غرمنۍ په ترڅ کې د خبرو اترو کابو وموندله او دخپل لکچر چاپي بڼه مې ور وسپارله چې د مينه والو لپاره يې کاپي کاندي. دی څلور مياشتې مخکې له المانه راستون شوی او دهغه پوهنتون د سروالۍ پازه يې پرغاړه اخيستې ده. ګاډي يې تر کابل پوهنتونه ورسولم او هلته د ژبو او ادبياتو پوهنځي له استادانو اڅک او لورين سره د پښتو ژبپوهنې د بېلابېلو څانګو ښرانګو د ښووانې پر ربړو او ستونزو و

غږېدم.

کورته له ستنېدوسره مې مل تيلېفون ته پام شو چې چارج يې پای ته رسېدلی او د ډېرو دوستانو زنګونه هوايي تللي وي. له همدې لامله شپبه نيمه به تېره وه چې عزيز جان راپسې تر ډېرو تيلېفوني زنګونو وروسته ارور ترور راغی او متې يې د کور په زنګ وموندلای شوم. سم له سمونې په ګاډي کې خوشال مېنې او بيا د آريانا لروينون مېلمستون ته ورسولم او په احسان آرينزي يې وسپارلم. که څه هم، له دغې اوريزې- وينيزې رسنۍ سره د ډېر کاري ليکوال دوست کورنی نوم د برابرۍ له مخې اړوندتيا موندلې، خو ښايي ډېريې باور هم نه کړي، ځکه له رامنځته کېدو راهيسې ورسره دا درې کاله د مرستيال په توګه همکاري لري او په ترڅ کې ورسره پښتو برخه هم پر مخ بيايي.

منځنۍ ۲۹-٤:

لومړۍ تر ښار منځې کوربه غرزي ورسولم او له هغه ځایه د ګران فراهي په ملتیا د سپین کلي(افشار) پر برید د ښووني روزنې پوهنتون ته ولاړم چې د

شهید پوهاند مجروح د اتیایمې زوکړې یوه څېړنیزه یادغونډه یې رابللې وه.

په یوه نیم ساته لارغه(وقفه) کې مې د کابل پوهنتون تر ادبپوهنځي یوه منډه وکړه. هلته مې د استاد لورین د پوهندویۍ د اړوند پوهنیز- څېړنیز اثر((ژبنۍ ډلبندۍ)) دفاعیه غونډې ته په وروستیو شېبو کې سرورښکاره کړ او بیرته په هماغه بیولې ګاډې کې مخنۍ غونډې ته را ستون شوم.

دوه دوه نیمې له ګران غفور لېوال سره د پرونۍ ډرنامې د بلهارې څمکني د لاسنیوې لپاره عیدګاه او بیا ورخېرمه شمشاد لروینون ته ولاړم. له ښاغلي او منلي سباوون سره د سبا لپاره د فرهنګیستان د پرانېستغونډې پر چمتو والي و غږېدم او له هغه ځایه له اړوندو کارمندانو سره په ګاډې کې ترخپل استوګنځي راغلم. له مخنۍ وخت ټاکنې سره راپسې د لمر لروینون ګاډۍ راغۍ او نبغ پر نېغه یې په وزیر اکبرخان مېنه کې اړوندې خپرنۍ ودانۍ ته

ورسولم. ځوان نوښتګر لیکوال او رسنوال عزت اله پېژاند مې تود هرکلی وکړ او بیا ورسره د ستودیو په نامه یوې لنډ تنګ وستل ته وختم. تر اوو- اوونیمو یې څه له پاسه یوه ګړۍ د لروین وړانګو ته څنګزن غونډې پر یوه څوکۍ کښېنولم او د پښتو ژبې او د نړیوالې سیالۍ په موخه یې دځلور ګوني وییپانګې او بیا نویزونو(نیولوجېزمونو) په تړاو په یادښت کړو او نویو رازېږېدلو پوښتنو ابښتنوکې راوښکېللم او ماهم تر وسې وسې پرله پسې ورغبرګې کړې. داچې کله به ورته انډیوال((طلوع)) تلویزیون د خپراوي کابو ورکړې وي،په ورځ دوو کې یې زما تر بیرته راتګه څه پته را ونه لګېده!

څلنۍ ۳۰-٤:

له اوبو- برېښنا نه د هممهالې کارونې په اسره ان سهار درې نیمې پر تشناب ور ننوتم او په دې ډول مې د یوه میاشتني یانه د دغې یوې پاتې ورځې د نچوړلي مهالوېش د ترسره کولو په تکل و پتېیله چې تر اتو پورې له کوره ووځم. له دې ناخبره چې، پرزړه به دې یوه وي، در پېښه به شي بله، د لرخبراوي (تېلې کمونېکېشن) له دوتره خپلواني زنګ راوواهه چې د پوهنتون خواته ډزوډوز دی او لارې سرکونه بند دي!

ماهم چار ناچارسل زړونه یوکړل، له کوره راووتم، په یوچل مې ځان تر خبرتیاوو او فرهنګ وزارته ورساوه او بیا د ګران فراهي په مرسته تر

سیمه ییزو څېړنو. په ترځ کې مې تر پښتو څانګې یوه منډه وکړه او بیا له خپل خواخوږي لېوال سره د آریانالروینون په بلنه هماغې خواته ولاړم چې ګهیځ مهال پکې د سرکاري جنګیالیو او طالب پلوې ترهګرې کورنۍ تر منځ یوه خونړۍ نښته شوې وه.

د لروینون مرستیال((آرینزي)) ړومبی پر بېلابېلو څانګو ښرانګو و ګرځولو او بیا یې د غرمنۍ لپاره خوراکخونې ته ور سیخ کړو. ملګرۍ رانه وروسته پر خپله مخه ولاړ، خو چې

ماهم خپلې لاس ګړۍ ته وکتل، دومره وخت راپاتې نه وو چې د تېر جوړجاړي له مخې ورسره مرکه وکړای شم. هغه هم ګاډی راکړ او په کور کې يې تر کاليو بدلولو وروسته ټيک دوه نيمې پرشمشاد لروينون وسپارلم.

رابللي چې ترڅو راتلل او غونډه پيلېدله، يوه ګړۍ پرې بله هم واو ښته. په سرکې د سپېڅلي قرآن څو آيتونه ولوستل شول او فراهي صاحب د لومړي وينا وال په توګه تر فرهنګيستانه زما پر علمي- فرهنګي منډو ترنډو زيات وږغېد. استاد صميم بيا د خپلو استادانه خبرو غوښنه برخه پر آره سکالو

(( پښتو فرهنګيستان)) را وڅرخوله او رامنځته کېدل يې د وسمهال له اړينو

غوښتنو څخه و ګڼل. پياوړي شاعر او څېړنوال لېوال هم پر هېوادني او جهاني کچ له نورو ژبو سره د پښتو د رغنده او پرله غښتي پوهنيزې، فرهنګي او تخنيکي سيالۍ لپاره د يوې داسې ازادې، نادولتي او ناپېيلې ټولنې بنسټ اېښوونه د پينځوس ميليوني پښتني ټولنې يوه ټولمنلې ربښته او اړتياو بلله.

نوموتي هنرمند ممنون مقصودي په خپل کوډګر غږ کې زما دوه کوشني شعرونه راواورول او په پای کې ما د فرهنګيستان د ټکلارې هماغه غټ غټ ټکي څرګند کړل، هسې خو يې کاپياني ګڼو مينه والو وار له مخه تر لاسه کړې وې. دغه بنسټواله غونډه چې تر پينځنيمو وغځېده، پر يوه مازيګرنۍ پايته ورسېده.

وروسته له پخواني فرهنګيال دوست هدايت اله وطنيار سره اووه- اته سوه مېتره وړاندې د واده يوه بنډار ته ولاړم. د يوشمېر نورو ګډونوالو دوستانو سره تر ليدو کتو وروسته له ګران حنان حبيبزي سره کور ته راستون شوم.

پېنځنۍ ۱-۵:

ګهيځ پينځه له لاسي څراغ سره پر تشناب ننوتم، مخ، لاس و پښې پرېولل او ږيره مې وخرېيله. پوره شيږنيمې غرزي، څه سپور او څه پلی د کابل هوايي ډګر تر پای بريد(ترمينله) ورسولم. لا اووه بجې نه وې شوې چې تر څو پرله پسې پوړيو او پاټکونو پر يوازېنې وتوځي (ګېټ) وربرابر شوم. اته او شل پر مخامخ سکرين باندې د کامير الوتکې يادښت سترګکونه راپيل شول او چې له څنګه مې له يو جګېدونکي هم وپوښتل، د کامير ټيکټ او بوردينګ کارت يې راوښوول. زه په دې اټکل چې له افغاني دود سره سم به د صافي هغه په وخت کې څه لاندی باندی را پيښ شوی وي، تر پاو کم نهو ورته سترګې پر لار پاتې شوم. لنډه داچې تر څو مې يو پازوال پيدا کاوه، کار له کاره تېر وو... او د الوتلې الوتکې لرې پروت دوتر هم په ډېره بې توپيری راڅرګنده کړه چې ان تر نالوستو مساپرو ګردخبر دي چې دواړه الوتکې همزمان الوځي، نو غبرګو ليکنوته څه اړتياده!

او ماهم په مات مخ ورغبرګه کړه:

هو، زما هم همدا ګناه وه چې لوستی وم او ان انګرېزي مې هم لوستلای شوه!

په هره توګه، هغه راسرباري شوې ورځ مې بیاهم ښه شګوم و ګاڼه او په پاتې کارونو پسې شوم. لومړی د لندني دوست اسماعیل سعادت د لیدو لپاره د بي بي سي دوتر ته ولاړم چې ورځ له مخه له بوش هوسه دغلته را استول شوی وو. له هغه ځایه له ښاغلو فرهنګیالو دوستانو، لودین او نبي پور سره اړوند زده کړیز مرکز ته ولاړم. شپېه نیمه له ښاغلو منلو کاروان او زهیر او بیا عابد، پاوند او مستان سره ګړۍ نیمه پر روان ادبي- فرهنګي بهیر و غږېدم. هملته د هېواد مل صاحب له دوتره زنګ راغی او بیا یې راتلونکي اوونۍ ته د علامه استاد حبیبي د نمنځغونډې لپاره دکندهار پر لوري چې یې د پوهنتون پوروړی هم وم، د ګډ تګ بلنه راکړه. ما له مننې سره ځنې ښېنه وغوښته او ورزیاته مې کړه چې کاشکې یې دوې ګړۍ له مخه خبر راکړی وای چې غبرګ ټېکټونه مې خو دویم ځلي نه غځولای!

شپږنۍ ۲-۵:

پردغه ورځ مې چې پر ټاکلي وخت د خپل دویم هېواد په تکل بیا هوایي ډګر ته ځان ورساوه اولکه مار له ډېروکړووړو ګوتپېرونو نه تېر او د وتوځي ناستخونې(لونژ) ته سم سهي ورسیخ شوم، زما د پرونۍ نیوکې په غبرګون کې پر ټاکلي مهال له ((کامیر)) سره سم له سمونې ((صافیر)) هم پر سکرین سترګکونه را سر کړل!

تر دوبۍ پورې په الوتنه کې راسره درې دوستان، نومیالی ملي پانګوال بصیر عمرزی، همایون آصفي او انجنیر نصیر صابري،هم ملګري شول او

د خپلو او پردیو ښکېلاک و زبېښاک ، جنګ و جهل ځپلي افغان ولس ویرژلو کیسو راباندې دوه ساته هوایي لاره لنډه کړه، خو تر لندنه بیاټولو اندېښنو ته یوازې زه پاتې شوم!.

وړاندې د افغاني ټولنې د ژغوراو نېکمرغۍ پر لور!

18072008

www.ayenda.org